
بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر کمپاین**

# اې د اسلامي امت پوځونو! قدس د اسلامي خلافت د پلازمېنې په توګه له تاسو غوښتنه لري!




The Central Media Office

**حزب التحرير په خپلو فعاليتونو کې د امريکا د ولسمشر ټرامپ پرېکړې ته چې بيت المقدس يې د يهودي دولت پلازمينه اعلان کړ په 2017/12/7-6 په پراخه توګه پوښښ ورکړ. د حزب التحرير**

**فعالینو په دې فعالیتونو کې ټینګار وکړ چې بیت المقدس د راتلونکي خلافت چې د رسول الله ﷺ په منهج جوړیږي، پلازمېنه وي، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ په یوه حدیث کې داسې فرمایي:**

**(هَذَا الأَمْرُ كَائِنٌ بَعْدِي بِالْمَدِينَةِ، ثُمَّ بِالشَّامِ، ثُمَّ بِالْجَزِيرَةِ، ثُمَّ بِالْعِرَاقِ، ثُمَّ بِالْمَدِينَةِ، ثُمَّ بِبَيْتِ الْمَقْدِسِ، فَإِذَا كَانَ بِبَيْتِ الْمَقْدِسِ فَثَمَّ عُقْرُ دَارِهَا، وَلَنْ يُخْرِجَهَا قَوْمٌ فَتَعُودَ إِلَيْهِمْ أَبَدًا.)**

***یعني: دا موضوع (خلافت) به له ما وروسته په مدینه کې دوام پیدا کړي، بیا به شام ته لاړ شي، بیا به په جزیره کې وي، بیا به په عراق کې وي، بیا به په مدینه کې وي او بیا به په بیت المقدس کې وي او کله چې بیت المقدس ته ورسېږ، نو بیا یې همدا اصلي ځای دی او هېڅ قوم به ونه توانیږي چې له منځه یې یوسي.***

**فلسطین په عمومي توګه او بیت المقدس په ځانګړې توګه یوه اسلامي موضوع ده چې له جاکارتا نیولې تر مراکشه پورې په ټول اسلامي امت پورې اړه لري. همدارنګه دا ناروا خبره ده چې څوک د فلسطین موضوع یوه نیشنلیستي موضوع بولي او یوازې یې په عربو پورې وتړي او یا یې هم په فلسطینیانو پورې محدودوي. د فلسطین سپېڅلې خاوره نه یوازې دا چې اسلامي خاوره ده، بلکې د ټولې اسلامي خاورې د زړه حیثیت لري او په ټولیزه کچه له ټولو مسلمانانو او په ځانګړې توګه د اسلامي امت له پوځونو غواړي چې دویم راشده اسلامي خلافت تاسیس کړي، هغه خلافت چې د شرعي مسوولیت پر بنسټ خپل ځواکمن پوځونو د فلسطین د سپېڅلې خاورې د ازادۍ لپاره وخوځوي او یو ځل بیا یې د پخوا په څېر د یهود له ناولو منګولو ازاده کړي.**

**2017/12/08**
**20 ربیع الاول/1439**
**د جمعې ورځ**